مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نو یسنده لزوما نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۱۹/۰۶/۱۷

کال ۱۳۹۷ وروسته له پر له پسی انتحاري حملو څخه په افغانستان کې

# بیدادی

چا ته یو سـو، له چـــا شکوه ، د بیدادی ســـره مخ یو
چې مـو هســتي شــوله برباد ،د بربادی ســـره مخ یو

تورو دیوانو د نفرت ،ایښـــی په زړونو مـو وحـــشت
ربه! دا څه دی زمونږ حـالت؟د بی دردی ســره مخ یو

یو خواته لاس بل خواته خپه ،بله خوا پرتی د زړه قطرې
ځومره تیارې شــولې اوږدې،څـه بیرحـمی سره مخ یو

د دې حـــالاتو اندیښــنو، کړلو بد رنـــګـــه مـوژوندون
د وهم شــپې دې تـیره وو، د لاچــاری سره مـــخ یو

د فرشـــتو په جـامو کې ، دیوان راګــرځي په خـوا کې
د دې بـی حـاصلو نـادانو، نافهـــمی ســـره مـخ یو

نه راخیژي لـــه یو دانا ،نه یو آواز لـــه یو آشـــــنا
نه چا له حـاله کړو آګـاه ،ځـکه خـواری سره مخ یو

په دیرسـوچــونو د تدبیر، بدل مـو نه کړلـــــوتقدیر
ګـیر یو دامــو کې د تذویر، د پریشـانی سـره مخ یو

بهــارونه واړه غمـجن ، د یــــو دبل پسـي راځـي
د بهـــبود زیری نه راوړي ، نا امیدی ســره مـــخ یو

ربه! تیاری مـو د باطن ، په مـــعرفت کړه راروښان
چي جـهالت او نا پوهي نه ، بد بینـــی سره مـــــخ یو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ